مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاهنواز باقر

۲۰۲۴/۰۳/۱۴

اوس د تسبو پر ځای په ګوتو ستا وعدې اړوي

تازه غزل ولولئ!

چرته به لاړ شي اخر، ستا له انتظاره سړی؟
د سخت روزګار نه، نه وېرېږي بې روزګاره سړی

اوس د تسبو پر ځای په ګوتو ستا وعدې اړوي
ستا محبت دومره بدل کړ، لمونځ ګوزاره سړی

وطن دې وخوړ، احسانونه هم کوې په وطن
چې دا چوکۍ دې په سر ماته کړي واکداره سړی

خدای خبر خوب ترینه چا وړی دی؟ که ورک دی چرته؟
د سترګو جیب کې وهي ګوتې تر سهاره سړی

اجمل منصور وایي غزل خو خپټه نه مړوي
باقره! څه نا څه کوي، د ژوند لپاره سړی

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ